ډاکتر عبدالصمد حامد جون ۲۰۰۶

# په افغانستان کې د ملت جوړونه

په ځينو افغاني او غير افغاني حلقو برسيره، د ۲۰۰۱ م کال د اگست په مياشت کې يعني په نيويارک کې د سپتامبر د پيښي نه پخوا د م .م. د موسسي سرمنشي په افغانستان کې د سولي او ثبات د تآمين او د ملت د جوړولو په باب خپل راپور کې داسي وړانديز کړی وو چې د دې هدف د تحقق له پاره به دا ضرور وي چې د ۶+۲ هيوادونو تر څنگه د نورو ذيدخلو هيوادونو مشروع غوښتنو او اړيکو (Interests)ترمنځ د هم آهنگۍ د پيدا کولو له لارې دا زمينه مساعده شي چې په افغانستان کې يو ملت جوړ شي.

دا وړانديز د سپتامبر د يولسمي نه وروسته د م.م. د امنيت شورا لخوا تصويب او تائيد شو او افغانستان د طالبانو او د هغو د ملگرو له منگولو نه خلاص او د نړيوال ائتلافي ځواکونو لخوا ونيول شو .اوس چې د نوموړې پيښي نه څلور کاله تيريږي، په پورتنی عنوان باندې خبرې کول به بې گټې نه وي.

که څه هم د ملت مفهوم د (Nation) په پرتله نسبتاً پراخه محتوی لري خو اکثراً د (Nation) د مفهوم د ترجمې په توگه استعماليږی .پدې اساس (Nation) د غربي تهذيب د ۱۷ او ۱۸ پيړی د Retionalism د تفکر ثمر په توگه د دولت او د هغه د وگړو د نوي تفسير په نتيجه کې مستعمل شوی دی چې زموږ د سيمې په سياسي او تهذيبی سطحه کې د دولت او د هغه د وگړو د توصيف وړ تفسير سره په تاريخي جريان کې سمون نه لري .سره د دې هم (Nation) او ملت اصطلاح اوس پدې بڼه نړيوال چلښت پيدا کړی دی.

د ملت اصطلاح په شکلی لحاظ د بين الدول د حقوقو په گډون د حقوقو له نظره عبارت دی د يوه دولت د ټولو اتباعو څخه چې وروسته به په دې باب څو خبرې وشی د ملت اصطلاح په سياسي ژوندانه کې تر ډيره حده د سوسيولوژی او سياست د علم د موازينو تر عنوان لاندې اکثراً د خاصو سياسي اهدافو د تحقق په غرض په ځينو تاريخي پديدو باندې د اتکا پواسطه د ملت مفهوم تر ډيره حده مبهم او مغشوش شويدی.

که څه هم په يوه هيواد کې د ولس د غړو د تعدد څخه د يوې واحدې ټولنې د جوړيدلو له پاره ځنې عوامل لکه گډه ژبه، گډه عقيده (دين او مذهب) گډې قومی اړيکې، گډ تهذيب او گډ تاريخ به تر يوه حده موثر وی خو د نړی د هيوادونو اوسنی واقعيت دا ثابتوي چې د ملت مفهوم محتوی يوازې د دې عواملو پورې منحصر نه ده بلکه د يوه ملت شتوالی اصلاً په انفسی خصوصيت او د خلکو ذهنی ذات البينی اړيکو باندې ولاړ دی البته دا انفسی احساس په خپل وار د پورتنيو ټولو عواملو نه متاثر کيږي.

په هر صورت ملت کوم تعمير، ښار، ماشين، فابريکه، فارم، دفتر او نه هم کوم اقتصادی سياسي، ټولنيز او تهذيبی موسسه ده چې د مربوطو متخصصينو لخوا طرحه او جوړ شي ولو که دا شيان په ملت کې موجود هم وي بلکه ملت په حقيقت کې د ټولني د هغه نظام په ارتباط پيدا شوی انفسی احساس او باور دی چې د يوې ټولني د لويو پرگنو او موثرو حلقو سره د گډو ارزښتونو د تحقق او گډې راتلونکی باندې د باور څخه پيدا کيږي او د دوی هويت تمثيلوی، پدې مانا چې دوی نه يوازې وربانديې وياړی بلکې د هغه د پاينت په لاره کې لازمو قربانيو ورکولو ته هم حاضريږی. د دې کبله د يوه ملت وجود، پاينت، وحدت او قدرت لپاره تر ډيره حده د دولت د حقوقی نظام په گډون د دولت د نظام خصوصيت او د ولس سره د هغه د نفاذ نه پيدا شوی مثبت انفسی احساس خاص اهميت او خاصه اغيزه لری .په حقيقت کې په دې ارتباط دا احساس د هغو عاطفوی اړيکو تر څنگ چې د يو فرد او يا يوې ټولني خپل طبيعی ماحول او د هغې نه ورته د محسوسو خاطرو څخه پيدا شي، يو بل سره د هغه بشري اړيکو چې دوی ته د گډو دودونو، تهذيبی، سياسی او ټولنيز او بشری موجود نظام او گډ او د منلو وړ راتلونکې څخه موجود شوی د يوه ملت خصوصيت تاکي ياني دا احساس په دوه ډول اړيکو باندې اتکا لري لومړی د يوه ملت د موجودو خلکو تر منځ د بيلو بيلو عواملو پر بنا پيدا شوی هغه اړيکي چې د ملت د لويو پرگنو او موثرو حلقو ته د منلو او يا لږ تر لږه د تحمل وړ وي.

دوهم چې د يوه ملت د لويو پرگنو او موثرو حلقو سره د خپل طبيعی ماحول او احتمالاً د نسلونو نسلونو قصي، خاطرې او تاريخ په حاضر او راتلونکې کې د گډو خطرونو يا د گډ غليم سره د مخامخ کيدلو په وجه نژدې اړيکي

پیدا کیږي په دې مانا چې دوئ نه یوازې ورباندې ویاړي بلکې د هغه د پایښت په لاره کې لازمو قربانیو ورکولو ته هم حاضریږي. د دې کبله د یوه ملت وجود، پایښت، وحدت او قدرت له پاره تر ډیره حده د دولت د حقوقی نظام په ګډون د ټولنیز نظام خصوصیت او د ولس سره د هغه د نفاذ نه پیدا شوی مثبت انفسی احساس خاص اهمیت او اغیزه لری.

د بلې خوا نه باید دا هم ومنل شی چې واحد او ځواکمن ملت هم د خاصو عواملو له کبله د منفی بدلونونو په سبب خپل قدرت، حتی ملی وحدت له لاسه ورکوي. پدې اړوند د نورو علمی امکاناتو نه په سوء استفادې سره د یوه ملت د موثرو حلقو د ذهنیت د جوړولو او انحرافی بدلونونو په وجه او د دې تر څنګ د خارجي ځواکونو د لاس وهنو او نورو موثرو سیاسی لوبو له لارې د ملتونو د انقراض لپاره زمینه لامساعده شویده .سره له دې چې افغان ولس هم د هر بل ولس په شان د دې عامې قاعدې څخه متاثر کیدلی شي خو د دې خاورې تاریخ ته د پاملرنې سره دا په ډاګه کیږي چې زموږ د هیواد د ملت د خصوصیاتو په اړوند د ملګرو ملتونو د موسسې او د یو شمیر افغاني او غیر افغاني حلقو دا شان قضاوت یوازې د شکلي موازینو او یا د خاصو سیاسي اهدافو د تآمین د هیلې پر بنأ رامنځ ته کیږي .دا هم یو د پاملرنې وړ واقعیت دی چې که زموږ په سیمه او یا په نړۍ کې په ارادي توګه د لویو ځواکونو په ګډون او د هغو د کورنیو او سیمه ایزو ملګرو او نورو حلقو د دیرشو کلونو په اوږدوکې یو هیواد باندې، داسې حالت تحمیل شوی وای چې افغان ولس ورسره لاس او ګریوان وو او لا هم دی، په غالب ګمان به د هغوی حالت د ملی وحدت په سطحه زموږ له حالته بدتر وای.

دې کې شک نشته چې د ملت په اړوند د یوه هیواد د لویو پرګنو انفسی احساس چې مخکې مو ورته ګوته ونیوله په حقیقت کې په قطعی او دایمي توګه ثابت نه پاتې کیږي .بلکې په بشري ټولنه کې د موجود دینامیزم څخه ناشي، سوله ایزه او غیر سوله ایزه بدلونونه هم پکې امکان لري .ځکه چې دا د انسانی غریزې د هغه تفکر نه رامنځ ته کیږي چې د هغې په اساس واقعیت هم باید یوازې پدې خاطر ونه منل او ونه زغمل شي چې شته دی بلکې د ځینو غیر مطلوبو واقعیتونو د بدلون لپاره هم باید کار وشی.

د دې غریزې پر خلاف د یوه تفکر په اساس د واقعیتونو پر دستوری ماهیت ټینګار کیږي یعنې د دې کبله چې واقعیتونه موجود وو او لا هم موجود دی، باید هغه وپالل شی او له منځه لاړ نه شي. د دې تفکر په وجه دودونه رامنځ ته کیږي.

په حقیقت کې د دې دواړو فکري جریانونو د وجود او نفاذ څخه پیدا شوی ټکر او دینامیزم د خپلو مثبتو او منفی عواقبو سره د بشری ټولنو د نیکمرغیو او بدمرغیو قصې او ډرامې د بشري تاریخ مهمه برخه جوړوي.

سره د دې هم ښایی چې د دې قاعدو پر بنا څرګندې شوی ادعاګانی په پټو سترګو ونه منل شی ځکه چې هره وضع شوې او یا استخراج شوی ټولنیزه قاعده د معینو اټکل شوو واقعیتونو څخه نشئت کوی نو که هغه اټکل شوی واقعیتونه بل شکل ولرې نو نوموړی وضع شوی قاعدې هم نه تطبیق کیږي .خو دې ټولو سره سره په ټولنه کې ځنې حلقې د معاصرې نړۍ تهذیب او په خاصه توګه د علم او تخنیک، اقتصاد او د غربی ټولنو د ځینو آزادیو په مقایسه زموږ د هیواد سیاسي او ټولنیز حالت د افغان ولس د غړو د یوې برخې له نظره د منلو وړ نه بریښیده او ځکه خو یې بدلون غوښت .دا بدلون غوښتونکی حلقې چې یوه او بل سره عقیدوي، ذهنی او سیاسی تضاد کې واقع هم وو، نسبتاً تنظیم شوی حالت یې درلود .خو د خپلو ذ ات البینی مخالفتونو سره سره دواړه خواوو د نشنلیزم په خلاف دریځ لرل یوه خوا یې د کمونیزم انترنشنلیزم پر بنا د نشنلزم سره مخالفت کاوه او د سیاست له نظره د شوروی دکتاتوري رژیم تر حمایی لاندې او د هغه د هدایت سره سم یې فعالیت کول او د بلې خوا د اسلامی ورورولۍ د تفسیر په اساس د نشنلیزم سره موافق نه وو او په سیمه کې یې نورو اسلامی نهضتونو سره نژدې اړیکې لرلې او پاللې.

څرنګه چې مو لیدلی د کمونستانو لخوا په لومړی پړاو کې کودتاګانې وشوې، وینی توی شوې او په پای کې سور لښکر افغان ولس باندې نازل شو .هیواد د هیوادوالو په وینو سور او په اوښکو لوند شو، او په پای کې دوی هم په خپلو وینو سره د وطن نه وشړل شول .ځکه چې د افغان ولس د بیلابیلو حلقو له خوا د دوی په خلاف په پوره اخلاص جهاد پیل شو چې د نړیوالو پاملرنه هم ورواوښته.

زما په نطر یو شمیر غیر اخلاصمندو، معامله ګرو، ریاکارو افغانی او غیر افغانی حلقو د افغان ولس د جهاد له نامه نه او د ربښتینو مجاهدینو د اخلاص، خوش باورۍ او نظامي حوایجو د رفع کولو نه په سوء استفادې سره د

سیاست په سطحه نه یوازې د غیر افغانی اهدافو د تحقق له پاره کار کاوه بلکې زموږ په ولس کې د نفاق او د جهاد او اسلامی نهضت د بدنامولو له پاره ډیرې منډې هم کړی دی.

زموږ جهاد د شوروی امپراطورۍ په انقراض کې د نورو عواملو تر څنګ یو مهم عامل وو .په داسې حال چې د روسیې د خلکو په ګډون نور ټول اړخونه د دې حالت نه ګټور شول خو په افغانستان کې د پورتنیو یادشوو عواملو له کبله د کورنیو جګړو اور بل شو، وینې او اوښکې وبهیدې او له هیواد کنډواله جوړه شوه او په پای کې د نړیوال ائتلاف تر نامه او د م.م .د امنیت شورا د پریکړې سره سم او د نوموړې موسسې د استازو سره یو ځای او زموږ د پخوانی غلیم او د دوی د اوسنیو ملګرو او یو شمیر ډیرو نورو هیوادونو نظامی او سیاسی حضور تثبیت او د دوی د لاس وهنو له پاره زمینه لامساعده شوه.

که څه هم نړیوالې مالی، بشري او سیاسي مرستې راسره کیږي، لويې جرګې او انتخابات داير شوی او د اساسي قانون په ګډون یو شمیر قوانین د کاغذ په سطح رامنځ ته شوی دی، د دولت د مشرانو ساتنه به احتمالاً په راتلونکې وخت کې د غیر افغاني محافظینو پر ځای په خارج کې افغاني روزل شوو ساتندویانو ته وسپارل شي خو د افغانستان د ملت جوړونې خبره لاهماغسې مطرح کیږي. ګواکې په دې مانا چې په افغانستان کې لا ملت نه دی جوړ شوی.

د افغان ولس نژدې تاریخ ته یوه لنډه کتنه د دې ادعا د رد باعث ګرځي ځکه چې که زموږ د ولس د نولسمې پیړۍ د مبارزو او جهادونو نه خبرې هم ونه شي یوازې دا به کافی وی چې د دې ولس د قربانیو نه ډک وروستئ جهاد زموږ د ولس د پرګنو د غبرګون په نظر کې نیولو سره دا پوښتنه مطرح شی چې که د افغان ولس د تیر دیرش کلن حالت او د خپلو او د پردیو لوبې او جفاګانې کوم بل ملت باندې شوی وای د هغوی حالت به څنګه وو؟ په دې اړوند به ښه وی چې د لسو کلونو په ترڅ کې د ملګرو ملتونو د آمنیت شورا د هغې موسسې د دوو سرمنشییو د وړاندیزونو یوه اړخ او د یو اروپایی دیپلومات غیر رسمي خبرو ته نظر وشی :

لکه چې ولیدل شو د لسو کلونو په اوږدو کې په ملي سطحه د یوه شمیر خود غرضو، ریاکارو او تنګ نظروخو د سیمې او نړۍ په سطح فعالو او موثرو حلقو د ناوړو فعالیتونو له کبله او همدا راز په سیمه ایزه او نړیواله سطحه موثرو ځواکونو له خوا د انصاف نه لیرې، یوازې د خپلو تصوری او یا احتمالي ګټو په هیلې زموږ مظوم خو مجاهد ولس سره داسې جفا وشوله چه نتیجه یې په ښه صورت د لسو کلونو په اوږدو کې په لاندې ډول د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وړاندیزونو کې منعکس شوی ده.

لومړی:

د ۱۹۹۱ م کال د جون د میاشتې په ۲۱مه ورځ د هغه مهال د م .م .د سرمشي له خوا په افغانستان کې د سولې او ثبات د تامین د پآره داسې وړاندیز شوی وو : د افغانستان استقلال، ملی حاکمیت، د خاورې تمامیت، اسلامی تشخص (Islamic character) او ناپیلتوب او پرته د هیڅ ډول د پردیو لاسوهنې، او تبعیض څخه باید د ولس د آزادو رایو اخستلو ته رجوع وشي، تر څو چه په سوله ایزه توګه په هیواد کې د پراخ بنسټه حکومت په واسطه سوله او ثبات تآمین شي، مهاجرین بیرته راستانه شي او په هیواد کې د بیا ودانولو کار پیل شي.

دوهم :لس کاله وروسته د م.م د اوسني سرمنشی په وړاندیز کې چه د ۲۰۰۱م کال د اګست په ۱۷مه یې د م.م د امنیت شورا ته د افغانستان د مصیبت د لرې کولو په باب شوی و، د نورو خبرو او تحلیل تر څنګ په دې ټینګار کیږي چه په دې هیواد کې سوله او ثبات هغه وخت راتلی شی چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د لازمو اقداماتو نه دا نتیجه تر لاسه شی چې د افغانستان د بحران د حل له پاره د ملګرو ملتونو هغه غړی هیواونه په خاصه توګه ۶+۲ دولتونه دې ته وهڅول شی چې د افغانستان په ارتباط د خپلو مشروعو ملی ګټو ترمنځ د هماهنګۍ د راوستلو پر بنا د یوه افغان ملت او د هغه د سیستم د جوړولو په ارتباط لازم ګډ اقدام وکړي.

د دې دواړو وړاندیزونو د تفاوت د وجود عوامل تر ډیره حده په ډهلی کې د یو غربی هیواد د سفیر په غیر رسمی څرګندونو کې روښانه کیږی:

په همدې کال کې به په افغانستان کې د شوروی اتحاد د ګټو د تامین د رجحان په اساس د حل سوله ایزه لار به پیدا شی ځکه چې د خلیج د جګړې د پانامه د نیولو، او د ختیځې اروپا د هیوادونو خلاصون د شوروی اتحاد د اثر نه دا ایجابوی چې د شوروی د اسیایی برخې په ساحې کې ورسره د غرب له خوا هم ګذشت صورت ومومی کله چې یو وار په افغانستان کې د کمونست ګوند په ګډون په رسمي توګه سوله ایز د حل لاره رامنخ ته شی بیا به افغانستان

د نړۍ د عام ذهنيت په سطح تر ډيره حده به د نظره ولويږي د دې کبله پاکستانيانو ته دا وظيفه ور په غاړه شوې ده چې د دې هدف د سرته رسولو په لاره کې خپلې ټولې هڅې وکړي .
په راتلونکي کې به افغانستان يقيناً يو نارام هيواد وی خو دا کار به تر هغې پورې د چا د علاقې وړ ونه ګرځي تر څو چې د دې خاورې نه د خارجی سياست په سطح نوې حادثې رامنځ ته نه شي .
هيله ده چې پورتينو مطالبو تر ډيره حده دا په ډاګه کړی وي چې د افغان ولس په مقابل کې څومره کورنی او بهرنی لوبې شوی دی او لابه هم وشي او د دې ولس ملی وحدت څومره خطرونو سره مخامخ و او لا هم دی دا خطرونه د نورو د خوا د منځه نه شي تللای بلکه د خواخوږو افغانانو د اخلاص نه ډکې او مدبرانه اوږدې مبارزې د لارې بايد د منځه لاړې شي د داسی مبارزې هدف بايد دا وی چې د موجودو واقعيتونو په مناسب رعايت او د هغوی نه په استفادې سره تر وسه د ډيرو هيوادوالو تر منځ د تفاهم په اساس په هيواد کې د داسې يوه نظام نافذيدلو ته زمينه برابره شی چې د دارينو خير حاصل شی او زموږ د هيودوالو اړيکې د يوه او بل او د نورو سره تر وسه د داسې عدالت د برقرارولو په واسطه تنظيم شی چې يوازې په شکلی مساواتو محدود نه وي بلکې په خپل جوهر کې په معنوی او مادی سطحه د تبعيضه پرته د وطنوالو ازادې چې د لازم مسئوليت د احساس سره يو ځای وی تنظيم شي او د ټولني سياسی، اقتصادی او تهذيبي عدالت هم په داسې شکل وی چې مظلوم په ظالم او ظالم په مظلوم بدل نه شي په خاصه توګه ښايی چې په دې لاره د حضرت رسول الله (ص) د هغه لارښووني او پيروی په برکت چې د مسلمان ملت د غړو ترمنځ د يوه بل سره ذات البينی اړيکی ټينګښت د ميني (تعاطف)، ترحم، او تساند پر اساس ضرور ګڼل کيږي تر څو چې په دې واسطه د دوی تر منځ وحدت په لوړه سويه تر لاسه شي په دې لاره کې د لازمو ستونزو د ګاللو تر څنګ ژور تفکر يوه بل سره مشوره، لازم تدبير او اخلاص په کار دی.
و من الله التوفيق